مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سیف قاضي زاده ۲۰۲۶/۰۸/۰۷

# د واخان دهلېز او د چین–پاکستان

لمړی برخه:
اقتصادي دهلېز (CPEC) پرتلیزه جیوپولیټیکي او جیواکونومیکي ارزونه:
د چین د «کمربند او لارې» نوښت (BRI) په چوکاټ کې یوه ستراتیژیکه شننه

**سریزه**

په اوسنۍ زمانه کې ترانزیتي دهلېزونه نور یوازې د سوداګریزو توکو د لېږد رالېږد لارې نه دي؛ بلکې د سترو قدرتونو لپاره د سیاسي ، اقتصادي ، امنیتي او جیوپولیټیکي نفوذ د پراختیا مهمې وسیلې ګرځېدلې دي . د همدې بدلون په رڼا کې ، د چین ولسي جمهوریت د «کمربند او لارې (Belt and Road Initiative – BRI) «نوښت له لارې هڅه کوي چې د ځمکنیو او سمندري دهلېزونو داسې پراخه شبکه رامنځته کړي چې هم د اکمالاتي ځنځیرونو او انرژۍ د لېږد امنیت تضمین کړي او هم د اوراسیا په کچه د چین اقتصادي برلاسی لا ټینګ کړي.

په دې ستراتیژیک چوکاټ کې ، د چین–پاکستان اقتصادي دهلېز (CPEC) د چین د سوېل لوېدیځې ستراتیژۍ د اساسي ستني په توګه پېژندل کېږي ؛ خو ترڅنګ یې د واخان دهلېز هم په تدریجي ډول د بیجینګ په ستراتیژیکو محاسبو کې ځانګړی ځای خپل کړی دی.

سره له دې چې واخان لا هم د زیربناوو له پلوه له ګڼو محدودیتونو سره مخ دی، خو د چین، افغانستان، منځنۍ اسیا او لوېدیځې اسیا د نښلېدو په څلورلارې کې د هغه بېساری جغرافیایي موقعیت ، دې لارې ته د پام وړ جیوپولیټیکي او جیواکونومیکي ظرفیتونه وربښلي دي . د دغه دهلېز اصلي ارزښت هغه مهال لا روښانه کېږي ، کله چې د راتلونکو سناریوګانو په چوکاټ کې ، په ځانګړي ډول د افغانستان له لارې د ایران د ترانسپورټي شبکې او د چابهار او بندرعباس له ستراتیژیکو بندرونو سره د هغه د نښلېدو امکان وارزول شي.

په داسې حالت کې ، واخان کولای شي
له یوه محدود سرحدي تګلوري څخه د اوراسیا د پراخې ترانسپورټي شبکې په مهمه برخه بدل شي او د چین–پاکستان اقتصادي دهلېز د ځینو دندو لپاره د بشپړوونکي ، او په ځانګړو شرایطو کې د محدود بدیل رول ولوبوي.

له همدې امله ، د واخان دهلېز او د چین–پاکستان اقتصادي دهلېز پرتلیزه ارزونه باید یوازې د اوسني وضعیت پر بنسټ ترسره نه شي ، بلکې اړینه ده چې د دواړو دهلېزونو بالقوه وړتیاوې ، امنیتي ملاحظات ، جیوپولیټیکي اغېزې ، جیواکونومیکي اړتیاوې او د چین اوږدمهاله ستراتیژیک اهداف هم په پام کې ونیول شي.

دا لیکنه د جیوپولیټیک ، جیواکونومي
او ملي امنیت له نظریو څخه په ګټې اخیستنې سره هڅه کوي چې د چین په ستراتیژۍ کې د دواړو دهلېزونو ځای او رول وڅېړي ، او همدارنګه د واخان دهلېز د پراختیا فرصتونه ، محدودیتونه او احتمالي پایلې د چین ، افغانستان او د سیمې د جیوپولیټیکي نظم لپاره تحلیل کړي.

د چین په ستره ستراتیژۍ کې د واخان دهلېز جیوپولیټیکي او جیواکونومیکي ارزښت :
د چین ولسي جمهوریت په ستراتیژیکو محاسبو کې د واخان دهلېز یوازې د افغانستان او چین ترمنځ یو سرحدي تګلوری نه دی ، بلکې په اوراسیا کې د چین د سترې جیوپولیټیکي او جیواکونومیکي معمارۍ یوه مهمه برخه ګڼل


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

کېږي . د دې دهلېز ارزښت يوازې د افغانستان او چين د دوه اړخيزې سوداګرۍ په چوکاټ کې نه شي تشريح کېدای ، بلکې بايد د بيجينګ د ستراتيژيکو موخو ، د «کمربند او لارې» نوښت ، د شينجيانګ( سينکيانګ) د امنيت ، د چين–پاکستان اقتصادي دهلېز (CPEC) د راتلونکي او د اسيا په زړه کې د سترو قدرتونو د سيالۍ له منظره وارزول شي.

**د واخان دهلېز د پراختيا تاريخي بهير او د چين ستراتيژيک ليدلوری:**
د واخان له لارې د افغانستان او چين ترمنځ د مستقيمې ځمکنۍ لارې د جوړولو مفکوره نوې نه ده . په ۲۰۰۸ کال کې د افغانستان د هغه وخت ولسمشر حامد کرزي ، چين ته د خپل رسمي سفر پر مهال ، د چين له ولسمشر هو جين‌تاو سره په کتنه کې د واخان له دهلېز څخه د يوې نښلونکې لارې د جوړولو وړانديز وکړ . د دې وړانديز موخه دا وه چې د افغانستان او چين ترمنځ مستقيمه ځمکنۍ اړيکه رامنځته شي ، دوه اړخيزه سوداګري پراخه شي او افغانستان د ګاونډيو هېوادونو پر ترانزيتي لارو خپله تاريخي تکيه راکمه کړي.

سره له دې چې دغه وړانديز ستراتيژيک ارزښت درلود ، چين په هغه وخت کې د دې پروژې عملي کولو ته لېوالتيا ونه ښوده . بيجينګ استدلال کاوه چې د واخان سخت طبيعي چاپېريال ، له پنځو زرو مترو څخه لوړې غرنۍ سيمې ، سخت اقليمي شرايط ، د ودانولو لوړې مالي لګښتونه او د اقتصادي توجيه نشتوالی د دې پروژې عملي کول له جدي ستونزو سره مخ کوي.

په حقيقت کې ، د چين پاليسي په هغه پړاو کې د افغانستان د اقتصادي زېربناوو پر پراختيا نه ، بلکې د خپلو لوېديځو سرحدونو د امنيت پر خونديتوب متمرکزه وه . د ۲۰۰۱ او ۲۰۱۳ کلونو ترمنځ د افغانستان لپاره د چين مالي مرستې تر ډېره د بيارغونې او پرمختيايي پروژو په بڼه وې او د دغه هېواد مستقيمې پانګونې لا هم محدودې پاتې شوې.

خو دا وضعيت په ۲۰۱۳ کال کې د چين د ولسمشر شي جين‌پينګ له خوا د «کمربند او لارې (BRI) «د نوښت له رسمي اعلان وروسته بدلون ومومند . دغه نوښت ، چې د يوويشتمې پېړۍ تر ټولو ستره اقتصادي نښلوني پروژه ګڼل کېږي، افغانستان ته هم د چين په جيواکونوميکو محاسبو کې ځانګړې اهميت ورکړ ؛ ځکه افغانستان کولای شي ختيځه اسيا له منځنۍ اسيا ، لوېديځې اسيا او آن اروپا سره ونښلوي.

د همدې ستراتيژۍ په چوکاټ کې چين په منځنۍ اسيا او پاکستان کې پراخې پانګونې پيل کړې او د چين–پاکستان اقتصادي دهلېز (CPEC) د بيجينګ د سيمه‌ييزې ستراتيژۍ له مهمو ستنو څخه وګرځېد . له دې سره سم ، افغانستان ته د چين مالي مرستې هم زياتې شوې او بيجينګ په تدريجي ډول افغانستان د «کمربند او لارې» د راتلونکې شبکې د يوې مهمې حلقې په توګه وکوت.

په ۲۰۱۶ کال کې افغانستان او چين د «کمربند او لارې» د نوښت په چوکاټ کې د همکارۍ يادداشت لاسليک کړ . دغه هوکړه د دواړو هېوادونو په اړيکو کې يو مهم بدلون بلل کېږي . د چين هغه وخت سفير ياو جينګ په کابل کې وويل:

«له افغانستان سره د نښلونې پرته ، د نړۍ له نورو برخو سره د چين بشپړه نښلونه ناشونې ده . »
دا څرګندونه ښيي چې بيجينګ افغانستان يوازې يو ګاونډی هېواد نه ، بلکې د اوراسيا د راتلونکې ترانزيتي شبکې يوه ضروري کړۍ ګڼي.
له دې هوکړې وروسته د چين–پاکستان اقتصادي دهلېز د افغانستان تر خاورې د غځولو په اړه ګڼې خبرې اترې پيل شوې . په ۲۰۱۷ کال کې چين د افغانستان د شمال ختيځ د بنسټونو د پراختيا لپاره شاوخوا ۹۰ ميليونه امريکايي ډالر ځانګړي کړل ، چې په هغو کې د فايبر نوري شبکې پراختيا او د واخان د سړک د يوې برخې جوړول هم شامل وو.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

سره له دې ، د افغانستان د هغه وخت جمهوري حکومت ، چې د متحده ایالاتو له سیاسي ملاتړ څخه برخمن و ، د واشنګټن د احتمالي منفي غبرګون له امله په عملي توګه د «کمربند او لارې» له نوښت سره له یوځای کېدو ډډه وکړه ، او ډېری وړاندیز شوې پروژې د پلان جوړونې له پړاو څخه وړاندې ولاړې نه شوې.

د ۲۰۲۱ کال په مې میاشت کې ، کابل او بیجینګ یو ځل بیا د واخان د نښلوونکې لارې د جوړولو په اړه خبرې پیل کړې . د دې طرحې له مخې ، ټاکل شوې وه چې چین د واخان د کوچني پامیر په سیمه کې د شاوخوا پنځوس کیلومتره سړک په جوړولو کې برخه واخلي ، چې د پروژې لګښت نږدې ۵/۷ میلیونه امریکایي ډالر اټکل شوی و . خو د همدې کال په اګست کې د افغانستان د امنیتي وضعیت خرابېدو او د جمهوري نظام له سقوط سره دغه پروژه هم ودرېده.

د طالبانو له بیا واکمنېدو وروسته د افغانستان په اړه د چین تګلاره هم نوي پړاو ته داخله شوه . بیجینګ د خپل اقتصادي نفوذ د ساتلو او له نوي حکومت سره د سوداګریزو اړیکو د پراختیا په موخه ، د ۲۰۲۲ کال په سپتمبر کې د شینجیانګ(سینکیانګ) د کاشغر ښار او د افغانستان د حیرتان بندر ترمنځ د قزاقستان او ازبکستان له لارې د اورګاډي ترانزیټي کرښه فعاله کړه . دې اقدام وښوودله چې چین ، حتی د واخان له بشپړې فعالېدو پرته هم ، افغانستان د اوراسیا له ترانسپورټي شبکې سره د نښلولو لپاره د بدیلو لارو په لټه کې دی.

**د طالبانو له بیا واکمنېدو وروسته د واخان دهلیز پرمختګ او د چین امنیتي ـ اقتصادي محاسبات :**
په همدې موده کې د ایران اسلامي جمهوریت هم د ایران ، افغانستان او چین ترمنځ د مستقیمې رېل‌پټلۍ د جوړولو وړاندیز وکړ . د جیواکونومیک له نظره دغه طرحه د «کمربند او لارې» نوښت بشپړوونکې ګڼل کېده ؛ ځکه کولای یې شول افغانستان د ختیځې او لوېدیځې اسیا له رېل‌پټلۍ شبکو سره ونښلوي . دا وړاندیز په ډاګه کوي چې د سیمې د ترانزیټي لارو پر سر سیالي او همکاري دواړه نوي پړاو ته داخلې شوې دي.

د طالبانو له بیا واکمنېدو وروسته ، د افغانستان د کانونو په سکتور کې د چین پانګونه هم د پام وړ زیاته شوه . د ۲۰۲۳ کال په سپتمبر کې د طالبانو حکومت اعلان وکړ چې د بدخشان له سیمې څخه د چین تر پولې پورې د پنځوس کیلومتره سړک د بیارغونې چارې یې د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت په مالي بودجه پیل کړې دي . په همدې وخت کې په بیجینګ کې د طالبانو استازي له چینایي چارواکو سره د واخان له لارې د مستقیمې سوداګرۍ د پیل په اړه پراخې خبرې وکړې او دغه دهلیز یې د افغانستان د اقتصادي سیاست له مهمو لومړیتوبونو څخه وباله.

د ۲۰۲۴ کال په جنوري میاشت کې طالبانو اعلان وکړ چې د یاد سړک ډېره برخه بشپړه شوې او ډېر ژر به د هغه د قیر کولو چارې هم پیل شي . د طالبانو له نظره ، د دې لارې فعالېدل به افغانستان ته دا زمینه برابره کړي چې د منځنۍ اسیا او پاکستان له لارې پرته له چین سره مستقیمه سوداګري وکړي . خو د طالبانو د حکومت محدودې مالي سرچینې لا هم د دې دهلیز د سړکونو ، پلونو ، سرحدي تاسیساتو او لوژستیکي زیربناوو د بشپړېدو تر ټولو ستر خنډ ګڼل کېږي . له همدې امله کابل څو ځله له بیجینګ څخه غوښتي چې د دې ستراتیژیکې پروژې په تمویل کې ونډه واخلي.

د ۲۰۲۴ کال په ډسمبر کې د طالبانو د کورنیو چارو سرپرست وزیر سراج‌الدین حقاني په کابل کې د چین له سفیر ژاو شینګ سره په لیدنه کې یو ځل بیا د واخان دهلیز پر ستراتیژیک اهمیت ټینګار وکړ . په دې کتنه کې دواړو لورو د دې لارې د ترانزیټي ، اقتصادي او امنیتي ظرفیتونو په اړه خبرې وکړې او دا یې د دواړو هېوادونو د راتلونکې همکارۍ له مهمو محورونو څخه وباله.

سره له دې اقتصادي ظرفیتونو ، د چین لیدلوری د واخان په اړه یوازې اقتصادي نه دی . د بیجینګ له نظره ، که دغه دهلیز بشپړ او فعال شي ، نو د چین ، منځنۍ اسیا ، افغانستان ، ایران او لوېدیځې اسیا ترمنځ به د سوداګرۍ ، انرژۍ او پانګې د لېږد واټن راکم کړي او د هغو سمندري لارو پر وړاندې به د چین اتکا کمه کړي چې د امنیتي ګواښونو پر وړاندې ډېرې زیان‌منې دي. همدارنګه، دغه دهلیز کولای شي د لېږد رالېږد لګښتونه راکم کړي، د چین د انرژۍ امنیت پیاوړی کړي او په ټوله اوراسیا کې د دغه هېواد اقتصادي او سیاسي نفوذ پراخ کړي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

سره له دي ، امنيتي ملاحظات لا هم د چين په محاسباتو کې تر اقتصادي ګټو زيات وزن لري . د چين مشران باور لري چې د واخان دهلېز بشپړ ټرانيسټل ، سره له دې چې ستر اقتصادي فرصتونه رامنځته کوي ، ښايي د افراطي ډلو ، د قاچاقي شبکو او بېلتونپالو عناصرو لپاره هم د شينجيانګ سيمې ته د نفوذ زمينه برابره کړي. له همدې امله، د طالبانو د حکومت برعکس چې د دې دهلېز چټکه پراختيا يوه اقتصادي او جيوپوليټيکي اړتيا ګڼي، بيجينګ لا هم له احتياط څخه کار اخلي او د دې پروژې عملي کول يې د افغانستان د امنيتي وضعيت له ښه کېدو او د سيمه‌ييزو کړکېچونو له کمېدو سره تړلي دي.

له همدې امله ، د چين په ستره ستراتيژۍ کې د واخان دهلېز دوه همهاله او کله ناکله متضادې دندې ترسره کوي . له يوې خوا ، دا دهلېز کولای شي د «کمربند او لارې» د نوښت يوه مهمه کړۍ او په اوراسيا کې د چين د جيواکونوميک نفوذ د پراختيا وسيله شي ؛ خو له بلې خوا ، همدغه لاره ښايي د امنيتي ګواښونو د لېږد په دهلېز بدله شي او د چين تر ټولو حساسه کورنۍ سيمه ، يعني شينجيانګ ، له نوو خطرونو سره مخامخ کړي.

همدغه دوه‌ګونې واقعيت سبب شوی چې د واخان په اړه د بيجينګ تګلاره تل د «اقتصادي فرصت» او «امنيتي ملاحظې «ترمنځ په توازن کې وي . له همدې امله ، چين د طالبانو د حکومت پر خلاف ، تر اوسه په دې دهلېز کې له پراخې او پرېکنده پانګونې څخه ډډه کړې ده.

دلته يو مهم علمي ټکی دا دی چې د واخان دهلېز بايد د چين–پاکستان اقتصادي دهلېز (CPEC) مستقيم سيال ونه ګڼل شي ؛ بلکې بايد هغه د يوه بشپړوونکي (Complementary Corridor) او يا هم په ځينو ځانګړو سناريوګانو کې د يوه محدود بديل (Limited Alternative Corridor) په توګه وارزول شي . د دې موضوع تحليل د جيوپوليټيک ، جيواکونومي او ملي امنيت د معاصرو نظريو له مخې تر سره کېدای شي.

**دويمه برخه :**
د واخان کوريډور او د چين–پاکستان اقتصادي دهلېز (CPEC) پرتليزه جيوپوليټيکي او جيواکونوميکي ارزونه:

په وروستيو لسيزو کې ، چين د «کمربند او لارې (BRI) «د نوښت له لارې په ټوله اوراسيا کې د اقتصادي ، ترانزيټي او انرژۍ دهلېزونو پراخه شبکه رامنځته کړې ده . د دغو دهلېزونو په منځ کې ، د چين–پاکستان اقتصادي دهلېز (CPEC) د چين تر ټولو مهمه ستراتيژيکه پروژه ګڼل کېږي ، ځکه چې د شينجيانګ(سينکيانګ) ايالت په مستقيم ډول د پاکستان له ګوادر بندر سره ، چې د عرب سمندر پر غاړه موقعيت لري ، نښلوي.

په مقابل کې ، د واخان دهلېز لا هم د بالقوه ظرفيت په پړاو کې دی ؛ خو له جيوپوليټيکي پلوه يې وړتيا تر يوې عادي سرحدي لارې خورا لوړه ده او د سيمې د ستراتيژيکو معادلو د بدلون وړتيا لري.

**۱ -جغرافيايي پرتله**
د واخان دهلېز نږدې ۳۵۰ کيلومتره اوږدوالی لري ، په داسې حال کې چې د چين–پاکستان اقتصادي دهلېز شاوخوا ۳۰۰۰ کيلومتره اوږد دی او چين د پاکستان له لارې د عرب سمندر له اوبو سره نښلوي.

په لومړي نظر کې ، CPECد بنسټونو له پلوه څرګند برلاسی لري ؛ ځکه چې آزادو اوبو ته مستقيم لاسرسی لري او په هغه کې د لسګونو ميليارډونو ډالرو پانګونه شوې ده . خو دا پرتله د حقيقت يوازې يوه برخه څرګندوي ، ځکه د دهلېزونو ستراتيژيک ارزښت يوازې د هغوی په اوږدوالي او زېربناوو پورې نه محدودېږي.

**۲ -جيوپوليټيکي ارزښت**
له جيوپوليټيکي نظره ، د واخان دهلېز اهميت په ځينو برخو کې آن د CPEC له ارزښت څخه هم لوړ ګڼل کېدای شي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولۍ

**الف ـ له افغانستان سره د چین مستقیمه نښلونه**
واخان د چین او افغانســـتان ترمنځ یوازینی مســـتقیمه ګډه پوله ده . دا ځانګړنه چین ته دا فرصـــت برابروي چې افغانستان ته له پاکستان پرته مستقیم لاسرسی ومومي.
برخلاف ، CPECد افغانستان په تړاو د چین ستراتیژیکه اتکا پر پاکستان ساتي.

**ب ـ پر پاکستان د ستراتیژیکي اتکا کمېدل**

که د واخان دهلېز بشـپړ او فعال شـي ، چین به نور افغانسـتان ته د رسـېدو لپاره د پاکسـتان د ترانزیتي شـبکي ، د تورخم او چمن د پولو یا نورو پاکستاني لارو کارولو ته اړ نه وي.
دا بدلون ، په ځانګړي توګه د افغانســتان لپاره ، ســتراتیژیک اهمیت لري ؛ ځکه چې د پاکســتان پر ترانزیتي لارو تاریخي اتکا به راکمه کړي.

**ج ـ د آسیا زړه ته لاسرسی**
واخان ، چین په مستقیم ډول هغې سـیمې ته رسـوي چې برتانوي جیوپولیتیسـن هالفورډ مکینډر د «ځمکنی زړه « (Heartland)په نوم یاده کړې ده.
برخلاف ، CPECتر ډېره د هند سمندر ته د چین د لاسرسي یوه ستراتیژیکه لار ده.

د ـ په منځنی اسیا او لوېدیځه اسیا کې د نفوذ پراختیا
د واخان دهلېز ، د افغانســتان له لارې، چین له تاجکســتان ، ازبکســتان ، ترکمنســتان ، ایران ، عربي هېوادونو ، ترکیې او د ایران د سمندري بندرونو له لارې له عرب سمندر سره نښلولی شي.
د دې سـناریو په تحقق سـره به چین په منځنی اسـیا او لوېدیځه اسـیا کې د پام وړ پراخ سـیاسـي او اقتصـادي نفوذ ترلاسه کړي.

**۳ -جیواکونومیک ارزښت**
په اوسنیو شرایطو کې ، CPECله اقتصادي پلوه د واخان په پرتله لوړ ارزښت لري ؛ ځکه چې:
له ګوادر بندر سره مستقیمه نښلونه لري ؛
پرمختللې ترانسپورټي زېربناوې لري؛
د اورګاډي کرښې ، د برېښنا لېږد شبکې ، د ګازو نل‌لیکي او ځانګړي اقتصادي سیمې یکې جوړې شوې دي.
برخلاف ، د واخان دهلېز لا هم د معیاري سړکونو ، رېل‌پټلۍ ، ګمرکي تأسیساتو او لوجستیکي مرکزونو له نشتوالي سره مخ دی.

خو د دې دهلېز راتلونکی ظرفیت د پام وړ دی.

که دغه دهلېز بشپړ شي ، افغانستان به وکولای شي:

د ترانزیټ له لارې د پام وړ عواید ترلاسه کړي ؛
خپل صادرات په مستقیم ډول چین ته ولېږدوي ؛
خپل کاني زیرمې د پاکستان له خاورې پرته نړیوالو بازارونو ته صادرې کړي ؛
او د منځنی اسیا له بازارونو سره مستقیمه اړیکه ټینګه کړي.

**۴ -د افغانستان لپاره اهمیت**
د افغانستان له لیدلوري ، د واخان دهلېز ارزښت د CPEC په پرتله ډېر لوړ دی ؛ ځکه چې:

د پاکستان پر بندرونو تاریخي اتکا کموي ؛
له چین سره د مستقیمي سوداګرۍ زمینه برابروي ؛
افغانستان په یوه سیمه‌ییز ترانزیتي څلورلارې بدلوي ؛


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیز بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د ګمرکي او ترانزيتي عوايدو د زياتوالي لامل ګرځي ؛
او د افغانستان جيوپوليټيکي موقعيت په سيمه‌ييزو معادلو کې لا پياوړی کوي.

**۵ -د چين لپاره اهميت**
د چين له نظره موضوع يو څه توپير لري.
بيجينګ لا هم CPEC د خپلې لوېديځې ستراتيژۍ اصلي ستن ګڼي ، ځکه چې دغه دهلېز:
د هند سمندر ته مستقيم لاسرسی برابروي ؛
د نفتو او انرژۍ د لېږد واټن لنډوي ؛
د مالاکا تنګي پر وړاندې د چين اتکا راکموي ؛
د چين د سمندري سوداګرۍ امنيت پياوړی کوي ؛
او په هغه کې له شپېتو ميليارډو امريکايي ډالرو څخه زياته پانګونه شوې ده.
له همدې امله ، د اقتصادي او لوجستيکي اړخونو له مخې ، CPECلا هم د چين تر ټولو مهمه ځمکنۍ ستراتيژيکه پروژه ده.

**لنډه ارزونه :**
د واخان دهلېز او د چين–پاکستان اقتصادي دهلېز (CPEC) پرتليزه څېړنه څرګندوي چې دواړه مسيرونه د چين د «کمربند او لارې» نوښت په ستراتيژۍ کې ځانګړي ، خو متفاوت رولونه لري CPEC . په اوسني وضعيت کې د چين لپاره تر ټولو مهم اقتصادي او ترانزيتي دهلېز دی ، ځکه چې له ګوادر بندر سره مستقيم اتصال ، پراخې پانګونې او نسبي پرمختللې زېربناوې لري . له همدې امله ، په لنډمهاله او منځمهاله موده کې د چين د سمندري او انرژۍ ستراتيژۍ لپاره CPEC اساسي اهميت لري.

خو د واخان دهلېز ارزښت بايد يوازې د اوسنيو زېربناوو له زاويې ونه ارزول شي. د دې دهلېز اصلي اهميت د هغه په جيوپوليټيکي موقعيت کې دی ؛ ځکه چې دا د چين او افغانستان يوازينۍ مستقيمه ځمکنۍ اړيکه ده او چين ته اجازه ورکوي چې د پاکستان له لارې پرته د افغانستان او د منځنۍ اسيا له جغرافيايي فضا سره اړيکې پراخې کړي.
که واخان د افغانستان له لارې د ايران له ترانسپورټي شبکې ، چابهار او بندرعباس بندرونو سره ونښلول شي ، نو دا به له يوه محدود سرحدي مسير څخه په يوه پراخ سيمه‌ييز او بين‌المللي ترانزيتي دهلېز بدل شي.

له جيواکونوميک نظره ، واخان په اوسني حالت کې د CPEC بديل نه شي کېدای ؛ ځکه چې د زېربناوو ، پانګونې او عملياتي ظرفيت له پلوه لا ډېر وروسته پاتې دی . خو له جيوستراتيژيک نظره ، واخان هغه ځانګړتيا لري چې CPEC يې نه لري : د مسيرونو تنوع او د يوه واحد شريک پر وړاندې د چين د اتکا کمول . د سترو قدرتونو په ستراتيژيکو محاسبو کې د بديلو لارو شتون د امنيت او اقتصادي ثبات لپاره مهم ارزښت لري.

د افغانستان لپاره ، د واخان دهلېز فعالېدل کولی شي د هېواد جيوپوليټيکي موقعيت لوړ کړي او افغانستان له يوه محصور هېواد څخه په يوه سيمه‌ييز ترانزيتي مرکز بدل کړي . خو د دې هدف ترلاسه کول د سياسي ثبات، امنيت، سيمه‌ييزې همکارۍ او پراخو زيربنايي پانګونو غوښتنه کوي.

په ټوله کې ، تر ټولو مناسب تحليل دا دی چې CPEC د چين د جيواکونوميک ځواک وسيله ده ، په داسې حال کې چې واخان د چين د جيوپوليټيکي انعطاف او ستراتيژيک تنوع يوه بالقوه وسيله ده . له همدې امله ، راتلونکې به ښايي دا دواړه مسيرونه د يو بل د سيالانو پر ځای د چين د اوراسيايي ستراتيژۍ د دوو بشپړوونکو ستنو په توګه مطرح کړي.

**پايله (نتيجه‌ګيري) :**
د واخان دهلېز او د چين–پاکستان اقتصادي دهلېز (CPEC) پرتليزه ارزونه ښيي چې ، که څه هم دواړه دهلېزونه د چين د» کمربند او لارې (BRI) «نوښت په چوکاټ کې د ګډو ستراتيژيکو موخو د تحقق لپاره طرحه شوي ، خو د خپلو دندو، ستراتيژيک ارزښت، جيوپوليټيکي موقعيت او جيوپوليټيکي ارزښت له پلوه له يو بل څخه څرګند توپير لري. په اوسنيو شرايطو کې، د چين–پاکستان اقتصادي دهلېز (CPEC) لا هم په جنوبي اسيا کې د چين تر ټولو مهم ځمکنی دهلېز


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

ګټل کيږي ؛ ځکه چې پرمختللې نسبي زېربناوې ، ستري پانګونې ، د ګوادر بندر ته مستقيم لاسرسی ، او د بيجينګ په ســمندري او انرژۍ ســتراتيژۍ کې محوري رول لري . په مقابل کې ، د واخان دهلېز لا هم د بالقوه ظرفيت په پړاو کې دی او د هغه عملي پراختيا د افغانستان له سياسي ثبات ، امنيتي وضعيت ، د بنسټيزو زېربناوو له جوړېدو او سيمه‌ييزو همکاريو سره نېغ تړاو لري.

سره له دې ، جيوپوليټيکي تحليل ښکاره کوي چې د واخان دهلېز ستراتيژيک ارزښت د هغه له اوسني وضعيت څخه خورا پراخ دی . دا دهلېز د چين او افغانستان ترمنځ يوازينۍ مستقيمه پوله ده او که د افغانستان له لارې د ايران د ترانسپورټي شبکې او ستراتيژيکو بندرونو سره ونښلول شي ، نو ختيځه اسيا به د افغانستان له لارې له فارس خليج، د عمان له سمندر ، ترکيې ، قفقاز او اروپا سره ونښلوي . دا ډول بدلون نه يوازې د پاکستان پر ترانزيټي لارو د چين ستراتيژيکه اتکا راکموي ، بلکې د ترانزيټي دهلېزونو د تنوع له لارې د چين جيوپوليټيکي انعطاف ، اقتصادي تاب‌آوري او ستراتيژيک خونديتوب هم زياتوي . دغه ليدلوری د جيواکونومۍ او د ستراتيژيک خطر د مديريت له معاصرو نظريو سره بشپړ سمون لري ، ځکه ستر قدرتونه تل هڅه کوي خپلې سوداګريزې او انرژۍ لارې متنوع کړي ، څو د يوه مسير د سياسي يا امنيتي بحران په صورت کې د هغوی د اکمالاتو او سوداګرۍ بهير له جدي خنډ سره مخ نه شي.

د افغانســـتان له ليدلوري ، د واخان دهلېز فعالېدل کولای شـــي هېواد له يوه په وچه کې راګير دولت څخه د چين ، منځنۍ اســـيا ، ايران او لوېديځې اســـيا ترمنځ په يوه مهم ترانزيټي څلورلارې بدل کړي . دا بدلون به نه يوازې د افغانســـتان ترانزيټي او ګمرکي عوايد ډېر کړي ، بلکې د هېواد جيوپوليټيکي موقعيت بـه هم پياوړی کړي او د ســوداګرۍ ، پانګونې ، ســيمه‌ييز اتصــال او د طبيعي زيرمو د اغېزمنې ګټې اخيســتنې لپاره به نوې زمينې برابرې کړي.

په پای کې ويلای شو چې د واخان دهلېز او د چين–پاکستان اقتصادي دهلېز بايد د يو بل سيال ونه ګڼل شي ، بلکې دواړه د چين د سترې سيمه‌ييزې ستراتيژۍ په چوکاټ کې يو بل بشپړوي . خو که د واخان دهلېز د افغانستان له لارې د ايران د ترانسپورټي شبکې او د چابهار او بندرعباس له ستراتيژيکو بندرونو سره ونښلول شي ، نو دا به له يوه محدود سرحدي مسير څخه د ختيځې او لوېديځې اسيا ترمنځ په يوه مهمه ستراتيژيکه نښلوونکې کړۍ بدل شي . په داسې سناريو کې به واخان نه يوازې د افغانستان جيوپوليټيکي اهميت لوړ کړي ، بلکې چين ته به دا فرصت هم برابر کړي چې د يوه واحد ترانزيټي شـريک پر ځای د متنوع ، انعطاف‌منونکې او خوندي ترانسـپورټي شـبکې له لارې د «کمربند او لارې» د نوښت اوږدمهاله ستراتيژيک اهداف تعقيب کړي . دا تحول به په راتلونکو لسيزو کې د اوراسيا د جيوپوليټيکي او جيواکونوميکي توازن پر بنه او مسير ژور اغېز ولري.

په درنه ناوی


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ